بسم الله الرحمن الرحیم

ستره محکمه

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

یکشنبه ۱۳ تله ۱۴۰۴ هـ ش | ۱۲ ربیع الآخر ۱۴۴۷ هـ ق | ۵ اکتوبر ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۱۱۲)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات د بنګلدیش هېواد د علماوو له پلاوي سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب د سه شنبې په ورځ (۱۴۴۷/۳/۳۰ هـ ق) نېټه په خپل کاري دفتر کې د بنګلدیش هېواد د علماوو له یوه پلاوي سره، چې مشري یې شیخ عبدالحمید صاحب کوله، وکتل.

محترم قاضي القضات په پیل کې د راغلي پلاوي هرکلی وکړ او د هغوی راتګ یې له افغانانو او اسلامي امارت سره د مخلصانه مینې څرګندونه وبلله.

د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي القضات وویل، له ډېرو کلونو جګړو او کړاوونو وروسته په افغانستان کې د ولس د غوښتنې سره سم یو بشپړ اسلامي نظام حاکم شوی دی، داسې نظام چې د افغانانو د قربانیو نتیجه ده او نن ټوله اسلامي نړۍ په خپلو هېوادونو کې د داسې نظام د تطبیق غوښتنه لري.

محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب وویل، د اسلامي امارت د زعیم لارښوونه دا ده چې چارواکي دې د ولس په خدمت کې وي، د خلکو ستونزو ته دې په وخت رسېدنه کوي او د محاکمو دروازې دې د ټولو پر مخ پرانیستې وي.

نوموړي د خپلو خبرو په دوام وویل، د اسلامي نظام له مهمو موخو څخه عدل را منځته کول، د الله تعالی د احکامو تطبیق او عملي کول دي چې دا د محاکمو په وسیله ترسره کېږي، نو په همدې اساس چې د اسلامي نظام اهداف په ښه ډول تطبیق شي د محاکمو په چوکاټ کې د قضاء په برخه کې ښه تجربه او کلونه سابقه لرونکي علماء او هغه تازه له اسلامي علومو فارغ، روزل شوي او مسلکي قاضیان په کار ګمارل شوي دي چې د قضاء په برخه کې ښه وړتیا لري، څو دوسیو ته په عادلانه او دقیق ډول رسېدنه وشي.

ورپسې د بنګلدیش د علماوو د پلاوي د خپلې وینا پر مهال له قاضي القضات څخه مننه وکړه چې هغوی ته یې د لیدنې زمینه برابره کړه.

نوموړي زیاته کړه، موږ دلته د اسلامي نظام هغه نمونه ولیده چې باید یو واقعي اسلامي حکومت یې ولري، زموږ د سفر لوی هدف دا دی چې له افغانستان څخه د دې تجربې هدایت او رهنمایي خپل هېواد ته یوسو، څو د اسلامي حکومت د جوړښت لپاره ترې ګټه واخلو.

په دوام کې د دواړو لوریو ترمنځ د اسلامي حکومتولۍ، د علماوو د رول، د اسلامي امت د یووالي او محاکمو د کاري طرز العملونو په اړه هم خبرې وشوې.

په پای کې غونډه د دعاء او دواړو لوریو په خوښۍ څرګندولو پای ته ورسېده.



## د سترې محکمې د اداري مرستیال محترم شیخ سخاء الله (سعید) صاحب په مشرۍ، د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون د ښه تنفیذ په موخه غونډه ترسره شوه.

د سترې محکمې د اداري مرستیال محترم شیخ سخاء الله (سعید) صاحب په مشرۍ، سه شنبه په ورځ (۱۴۴۷/۳/۳۰ هـ ق) نېټه په ستره محکمه کې د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون د ښه تنفیذ په موخه غونډه ترسره شوه.

په یاده ناسته کې چې د سترې محکمې د عالي مقام دفتر عمومي رئیس محترم الحاج مولوي عبدالوکیل حقاني، د کارکوونکو چارو عمومي رئیس محترم الحاج مولوي سیف الله آغا، د اداري معاونیت د دفتر رئیس مولوي عبدالمتین (صمیم)، د دعوت او ارشاد ریاست استازو په کې ګډون درلود د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون د ښه تنفیذ او تطبیق په موخه تفصیلي خبرې وشوې.

په دې ناسته کې پرېکړه وشوه چې د سترې محکمې ټول مامورین دې جماعت لمانځه او د دعوت او ارشاد ریاست درسونو ته حاضرېږي، هره اونۍ دې بېلا بېل بیان کوونکي پر ټاکل شوو موضوعاتو بیانونه کوي او د مهال وېش مطابق دې له لمانځه وروسته متصل مامورینو ته درس ورکول کېږي.

دغه راز د سترې محکمې اداري مرستیال هدایت وکړ چې د دعوت او ارشاد ریاست دې د ټولو امریتونو د طرزالعمل پوښتنه وکړي او راتلونکې ناستې ته یې دې له ځان سره راوړي.

د یادونې وړ ده چې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د ۲۶۲۴/۳۵۴ شمېره، ۱۴۴۶/۵/۲۳ هـ ق نېټې حکم په اساس، هرو دوو اونیو کې یو ځل د سترې محکمې د اداري مرستیال په مشرۍ ستره محکمه کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون د ښه تنفیذ په موخه غونډه کېږي.

## د کابل ولایت مرافعه، د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي او اختصاصي محاکمو په دوو اونیو کې (۵۲۰) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت مرافعه محکمې دیوانونو، د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي او اختصاصي محاکمو په دوو اونیو کې (له ۱/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټې) پورې د اجراآتو راپور په لاندې ډول دی:

**د مرافعه محکمې دېوانونو اجراآت:**

د کابل ولایت مرافعه محکمې دېوانونو ته په دوو اونیو کې (۱۸۰) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۹۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱) دوسیه فیصله شوې، (۲۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې اجراآت:**

یادې محکمې ته په دوو اونیو کې (۲۸۵) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲۳۱) دوسیې فیصله شوې، (۴۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د اختصاصي محکمې اجراآت:**

یادې محکمې ته په دوو اونیو کې (۲۶) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱) دوسیه مکتوبي مسترد شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د راشده خلافت په دوره کې قضاء:**

**هغه مهم کارونه چې د ابوبکر ﵁ د خلافت په دوره کې ترسره شوي**

**یوولسمه برخه**

الله ﷻ د مسلمانانو ملاتړ وکړ، د ارتداد لاره وتړل شوه، اسلام د جزیرة العرب شاوخوا کې استقرار پیدا کړ او ټول قبایل د زکات ورکړې ته تیار شول.

۳ـ ابوبکر ﵁ عراق لوري ته خالد ﵁ تیار کړ او له ده سره یې مثنی بن حارثه الشیباني هم ولیږلو؛ نو ډېر ښارونه یې فتحه کړل، بېرته بریالي او له غنیمتونو سره راوګرځېدل.

اخذلیک: تتمة النظام، ۵۹ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبدالرحیم راشد

## جلسه‌ای تحت ریاست معاون اداری ستره محکمه برگزار گردید

جلسه‌ای تحت ریاست محترم شیخ سخاءالله (سعید) معاون اداری ستره محکمــه، روز دوشـــــنبه مـــؤرخ (۱۴۴۷/۴/٦ هـ ق) به هدف بهبود امور اداری، تقویت هماهنگی میان ریاست‌های مربوطه و فراهم سازی تسهیلات لازم در این زمینه برگزار شد. در این جلسه که در معاونیت اداری ستره محکمه برگزار گردید، محترم الحاج مولوی عبدالوکیل (حقانی) رئیس عمومی دفتر مقام عالی ستره محکمه، محترم الحاج مولوی سیف‌الله (آغا) رئیس عمومی امور کارکنان، محترم الحاج مولوی کریم‌الله (زاهد) رئیس عمومی مالی و اداری، محترم الحاج مفتی ابراهیم جان(ابوالحفاظ) رئیس عمومی حقوق، محترم مولوی عبدالرحیم (راشد) رئیس ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات، محترم مولوی محمد جمعه (فیضانی) رئیس پلان و پالیسی، محترم مولوی عبدالمتین (صمیم) رئیس دفتر معاونیت اداری، محترم الحاج حافظ نصیر احمد (صیاد) رئیس ارتقای ظرفیت و ارزیابی اجراآت، محترم الحاج مفتی عبدالوارث (سعید) رئیس استخدام و سوانح، محترم ملا محمود (آخند) رئیس امور مالی و حسابی، محترم سید مجیب الله (ځل) رئیس امور اداری، نماینده ریاست دعوت و ارشاد و محترم الحاج ملا عزت الله (مدثر) قوماندان قطعه امنیتی و محافظتی ستره محکمه اشتراک داشتند. جلسه با تلاوت آیاتی از قرآنکریم توسط محترم حافظ نصیر احمد (صیاد) آغاز شد، سپس محترم شیخ سخاءالله (سعید) معاون اداری ستره محکمه صحبت کرد وگفت، برای پیشرفت هر اداره هماهنگی، اعتماد، اتحاد، مشورت و احساس تعهد میان مسؤولین ضروری است، بناء لازم است مسؤولیت‌های که در نظام اسلامی به ما سپرده شده اند را با تعهد کامل و اخلاص انجام دهیم، هماهنگی موجود را برای انجام بهتر و به موقع امور؛ میان همدیگر تقویت کنیم. همچنان شیخ صاحب افزود، ما باید شکر الله‌متعال را اداکنیم که نعمت نظام اسلامی را برای ما بخشیده است، در این نظام خدمت نباید به خاطر مسائل مادی باشد، بلکه باید بخاطر رضای الله متعال و خدمت به هموطنان انجام شود؛ وظایف سپرده شده باید مطابق با احکام و فرامین مقام عالی مشرتابه، قوانین نافذه، اصول، متحدالمال ها و هدایات ستره محکمه انجام شود. معاون اداری ستره محکمه هدایت داد، که کارکنان محاکم باید با مراجعین رفتار مناسب داشته باشند و کارهای آنان را در زمان مقرر انجام دهند.

## د بلخ ولایت مرافعه او نظامي زون محاکمو لپاره نوي رئیسان معرفي شول

د بلخ ولایت مرافعه محکمې نوی رئیس محترم مفتي غلام الله (مظهري) او د دغه ولایت د نظامي محکمې نوي رئیس محترم مفتي حفیظ الله (محمدي) په ۲۷/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه د یوې غونډې په ترڅ کې د یادو محاکمو قضائي غړو او اداري کارکوونکو ته معرفي او رسماً یې کارونه پیل کړل. په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د بلخ مرستیال والي محترم مولوي (ابوادریس)، د کندوز زون د نظامي محکمې رئیس شیخ عبدالهادي (همت)، د محاکمو رئیسانو او قضائي غړو ګډون کړی وو. د معرفت غونډه کې ګډونوالو نویو رئیسانو ته د الله تعالی له دربار څخه په چارو کې د بریا او د دندو د ښو سرته رسولو د توفیق غوښتنه وکړه.

## د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي د هېواد (۱۰) ولایتونو ته سفر پیل کړ

د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست رئیس محترم حافظ مولوي عبدالعزیز (میوندي)، د یاد ریاست د مدرس مفتي عبدالمالک (انقیادي) په ملتیا په ۲۷/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه د هېواد پکتیکا، غزني، زابل، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، خوست، پنجشېر، کاپیسا او پروان ولایتونو ته سفر پیل کړ.

د دعوت او ارشاد ریاست پلاوی به یادو ولایتونو ته د سفر پر مهال، د مرافعه، ښاري ابتدائیه او نظامي محاکمو له رئیسانو او د یادو محاکمو د دعوت او ارشاد له آمرینو سره ناستې وکړي.

دغه راز به د دعوت او ارشاد ریاست د رئیس په مشرۍ پلاوی د یادو ولایتونو د محاکمو مسؤولینو او منسوبینو ته د اصلاحي بیانونو ترڅنګ د دعوت او ارشاد آمریت د تېر یوه کال د لاسته راوړنو نظارت او ارزونه وکړي.

## د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د تخار ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت د محترم مولوي روزي محمد (زمیل) په مشرۍ د قضائي پلټنې یوه پلاوي چې مولوي عبدالجبار (شهاب) او مولوي بخت الله (مدني) یې غړیتوب درلود؛ د روان ۱۴۴۷ هـ ق کال د ربیع الأول میاشتې په ۱۶مه نېټه د تخار ولایت د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

دغه پلاوي د سفر او لیدنې په پیل کې د تخار ولایت د مرافعه محکمې رئیس سره وکتل؛ ورپسې یې د بندیانو ستونزو د څېړلو په موخه د یاد ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه، د زندان اړوند ټولو بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت، شکایتونه، ستونزې یې له ځان سره ولیکل او بیا یې له اړوند محاکمو سره شریک کړل.

د سترې محکمې د عالي مقام لخوا ټاکل شوي پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د تخار ولایت د (۱۶) ولسوالیو له ابتدائیه، ښاري او مرافعه محاکمو اړوند دېوانونو، وثایقو آمریت، مخزن، حقوقو آمریت، اختصاصي او نظامي محاکمو څخه په جلا جلا ډول لیدنه وکړه.

دغه پلاوي د څارنې بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو له قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي غړو او اداري کارکوونکو د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې یې ورته لازمې لارښوونې وکړې.

د قضائي تفتیش پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې او کاري خنډونه له ځان سره ولیکل او د لیدنې په وروستیو کې یې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د یاد ولایت د مرافعه محکمې له رئیس سره تفاهمي ناسته وکړه او ځینې ستونزې یې په جلا جلا توګه ورسره شریکې کړې.

دغه پلاوي د څارنې او لیدنې په دوام د ولسوالیو له مسؤولینو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او د ځینو اړوند ستونزو د حل په موخه یې د هغوی نظرونه واورېدل.

د قضائي تفتیش د څارنې او پلټنې پلاوي یاد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۷ هـ ق کال د ربیع الآخر میاشتې په لومړۍ نېټه پای ته ورسېد.

## د پکتیا زون نظامي محکمې لپاره نوی رئیس معرفي شو

د پکتیا زون نظامي محکمې نوی رئیس محترم الحاج مولوي عبدالجلیل (حسیني آغا) په ۱۴۴۷/۴/۲۸هـ ق نېټه د دغه ولایت د محاکمو او نورو امارتي ادارو مسؤولینو ته معرفي او رسماً یې چارې پیل کړې.

د پکتیا زون نظامي محکمې د نوي رئیس د معرفۍ په موخه جوړه شوې غونډه کې د سترې محکمې عالي مقام د نظامي منسوبینو محکمې غړي، د پکتیا والي محترم الحاج ملا مهرالله (حماد)، د دغه ولایت مرافعه محکمې عمومي رئیس محترم الحاج مفتي عبیدالله «خالد»، د استخباراتو رئیس، امنیه قوماندان، د علماء شورى غړي، د خوست ولایت نظامي محکمې څانګې رئیس، نورو علماء کرامو، مشرانو او ګڼ شمېر مسؤولینو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم په مبارکو آیاتونو پیل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې رئیس محترم الحاج مفتي عبیدالله «خالد» د غونډې ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه زیاته یې کړه، د پکتیا زون نظامي محکمې نوي رئیس ښاغلی مولوي حسیني آغا صاحب ته د مبارکۍ ترڅنګ د لوی خدای (جل‌جلاله) له درباره د ښه خدمت توفیق غواړم. د مرافعه محکمې رئیس د پکتیا زون نظامي محکمې نوي رئیس ته ډاډ ورکړ چې ان شاءالله موږ به قدم په قدم تاسو سره همکاري کوو.

ورپسې د سترې محکمې عالي مقام د نظامي منسوبینو دېوان رئیس محترم شیخ عبدالظاهر (ابو الاحسان)، د پکتیا ولایت د علماوو شورى مرستیال محترم مفتي امان الله «حقاني» د قضاء د اهمیت، د پکتیا زون نظامي محکمې قاضي محترم مولوي عبدالناصر (نصرت)، د کابل زون نظامي محکمې مفتي مولوي عبدالهادي (حنیفي) د بېلا بېلو مهمو موضوعاتو اړوند خبرې وکړې.

د یادې غونډې په پای کې د پکتیا زون نظامي محکمې نوي رئیس ښاغلي مولوي عبدالجلیل «حسیني آغا» ډاډ ورکړ چې ان شاءالله تل به هڅه کوم د پکتیا ولایت ولسونو ته د زړه له تله او صادقانه خدمت وکړم، د پکتیا ولایت له ټولو چارواکو څخه یې غوښتنه وکړه چې له نوموړي سره په چارو کې همکار او همغږي پاتې شي او غونډه د کابل زون نظامي محکمې د قاضي شیخ فضل الحق صاحب لخوا د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## محترم شیخ عبدالغفار (رحمانی) به حیث رئیس جدید محکمهٔ نظامی زون هرات طی نشستی معرفی و به کارش آغاز نمود

محترم شیخ عبدالغفار (رحمانی) به حیث رئیس جدید محکمهٔ نظامی زون هرات با اشتراک محترم مولوی علی گل (حمیدی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت هرات و محترم مولوی محمد افضل رئیس محکمهٔ اختصاصی رسیدگی به قضایای غصب املاک زون هرات و منسوبین قضائی محکمهٔ نظامی زون هرات، محترم الحاج مولوی نعمت الله (معصوم) قوماندان لوای ولایت فراه و محترم ملا عزت الله (کامران) معاون استخبارات ولایت فراه، الحاج مولوی مؤمن الله (آصف) رئیس ترانسپورت ولایت هرات، محترم مولوی شیر احمد (عرفان) قوماندان قوماندانی زون ششم محکمهٔ نظامی زون هرات و محترم مولوی باران (یاسر) قوماندان امنیتی محکمهٔ اختصاصی رسیدگی به قضایای غصب املاک زون هرات به تاریخ ۲۷ /۳ /۱٤٤۷هـ ق طی نشستی به همکارانش معرفی و رسماً به کار آغاز کرد.

نشست با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید توسط قاری حافظ اجمل آغاز گردید، سپس مولوی علی گل (حمیدی) رئیس محکمهٔ مرافعه ولایت هرات صحبت نمود و تشریف آوری محترم مولوی عبدالغفار (رحمانی) رئیس جدید محکمهٔ نظامی زون هرات را به آن ولایت خیر مقدم گفت و فرمود، تبدیلی یکی از اصول امارت اسلامی است که به اساس لزوم دید مقام عالی رهبری و مقام عالی ستره محکمه صورت می‌گیرد و از منسوبین محترم قضائی محکمهٔ شرعی نظامی زون هرات تقاضا نمود؛ تا اطاعت از اوامر و فرامین را در اولیت کاری خویش قرار دهند.

در ادامه شیخ عبدالغفار (رحمانی) رئیس جدید محکمهٔ نظامی زون هرات صحبت نمود وگفت، تبدیلی از یک وظیفه به وظیفه دیگری تفویض یک امانت و مسؤولیت می‌باشد از خداوند متعال توفیق رفع این مسؤولیت را استدعا داریم.

جلسه با دعاء خیر خاتمه یافت.

## محاکم ولایت بغلان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۱۱۰۲) دوسیه، به تعداد (۴۵۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۷۰۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۶۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۹) دوسیه فیصله شده، (۱۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۲۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۲۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۳) دوسیه فیصله شده، (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۴۵۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۶۰) دوسیه، به تعداد (۲۵۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، نظامی، اختصاصی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۵) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۴) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۹) دوسیه فیصله شده، (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۲۵۸) قطعه وثایق نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت بدخشان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۷۷۴) دوسیه، به تعداد (۴۰۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بدخشان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۶۲۰) دوسیهٔ حقوقی مورد رسیدگی قرار گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۳۷۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲۴) دوسیه فیصله شده و (۱۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۱۵۴) دوسیهٔ جزائی مورد رسیدگی قرار گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۹۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۵) دوسیه فیصله شده و (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۴۰۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت تخار طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۹۲۱) دوسیه، به تعداد (۴۸۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

محاکم ولایت تخار در جریان یک ماه به تعداد (۵۴۵) دوسیهٔ حقوقی را سیدگی نموده‌است.

از آن جمله در رابطه به (۴۱۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۱) دوسیه فیصله شده و (۳۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش جزائی:**

محاکم ولایت تخار در جریان یک ماه به تعداد (۳۷۶) دوسیهٔ جزائی را رسیدگی نموده‌است.

از آن جمله در رابطه به (۱۹۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵۵) دوسیه فیصله شده و (۲۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۴۸۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۵۶۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۰۳) وثیقې هم اجرا کړې دي

د پکتیا ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د پکتیا زون نظامي، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق نېټې) پورې (۵۴۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۳۸) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۳۱۷) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۸۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۱) دوسیې فیصله شوې، (۳۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۲۷۶) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۴۹) دوسیې فیصله شوې، (۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو په برخه کې:**

د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۰۳) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۵۴۰) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۲۵۸) وثیقې یې هم اجرا کړې دي

د خوست ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق نېټې) پورې (۵۴۰) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۲۵۸) وثیقې یې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې په حقوقي برخه کې د (۲۲۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر کړي، (۸۱) دوسیې یې فیصله کړې او (۲۶) نورې یې مکتوبي مستردې کړې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې په جزائي برخه کې د (۴۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر کړي، (۱۵۵) دوسیې یې فیصله کړې او (۱۲) نورې یې مکتوبي مستردې کړې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۵۸) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت غزنی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۳۱) دوسیه، به تعداد (۲۵۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۷۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۴) دوسیه فیصله شده، (۲۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۷۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۵) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۲۵۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## په خوست ولایت کې درېیو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د خوست ولایت نادرشاه‌کوټ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې درېیو کسانو ته د اخلاقي فساد او نامشروع اړیکو په جرم، په ۴/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد کسان پر ۳ ـ ۳ میاشتې تنفیذي بند او ۳۰ ـ ۳۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو. یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوه.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا اله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د کابل ولایت د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې لخوا (۱۷) مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې (۱۷) کسانو ته د نشه‌یي تابلیتو (ذیکپ او تابلیت کا)، الکولي مشروباتو او چرسو د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو، په ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد مجرمین له اوو میاشتو څخه تر درې کالو او شپږو میاشتو پر تنفیذي بند او له ۱۵ څخه تر ۳۵ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو.

یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوه.

## په میدان وردګ ولایت کې دوو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د میدان وردګ ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې د یوې ښځې په ګډون دوو کسانو ته د نامشروع اړیکو په جرم؛ په ۱/ ۴/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد مجرمین پر ۲۰-۲۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه د ښاري ابتدائیه محکمې د مدني دېوان مفتي مولوي حکمت الله (احمدي) لخوا د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

وروسته د مرافعه محکمې د دعوت او ارشاد آمر مولوي عبدالله (عزام)، د مرافعه محکمې د عامه امنیت دېوان مفتي صبغت الله (راشد)، د ښاري ابتدائیه محکمې د مدني دېوان عضو محرر او د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دېوان رئیس په اسلامي نظام کې د حدودو او تعزیراتو پر اهمیت تفصیلي خبرې وکړې.

غونډه د مرافعه محکمې د جزا دېوان رئیس لخوا د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## حکم جزای تعزیری بالای (۱۳) مجرم در ولایت کاپیسا تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا بالای (۱۳) تن به شمول شش زن، به جرم فرار از منزل و روابط نامشروع؛ به تاریخ ۲/ ۴/ ۱۴۴۷هـ ق در محوطهٔ محکمهٔ مرافعه حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ مرافعه مجرمین مذکور را به ۳۹-۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضور محترم مولوی عزیزالرحمن (حقانی) رئیس محکمهٔ مرافعه، قضات محاکم شهری و مرافعه و مسؤولین ارگان‌های امارتی تطبیق شد.

## د پکتیا ولایت محاکمو د مسؤولینو په هڅو د دوو کورنیو ترمنځ (۲۵) کلنه دښمني حل شوه

د پکتیا ولایت مرافعه محکمې رئیس محترم مفتي عبیدالله (خالد) او د ډنډ پټان ولسوالۍ ابتدائیه محکمې رئیس په هڅو، د قومي مشرانو او علماوو په منځګړیتوب، په ۲۷/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه د دوو کورنیو ترمنځ (۲۵) کلنه دښمني په دوستۍ بدله شوه.

یاده موضوع ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او پوره دقت وڅېړل شوه، ورپسې د مسؤولینو لخوا دواړه کورنۍ سولې ته ترغیب او وهڅول شوې.

د یادې موضوع دواړو طرفونو سولې ته غاړه کېښوده او په دې سره د دوی ترمنځ (۲۵) دښمني پای ته ورسېده.

په وروستیو کې دواړو طرفونو د محاکمو له مسؤولینو مننه وکړه.

## سیمینار سه‌روزه برای منسوبین قضائی، اداری و مدیران حقوق پنج محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت بادغیس برگزار گردید

به اساس هدایت محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بادغیس، یک سیمینار سه‌روزه به تاریخ‌های ۲۸، ۲۹ و ۳۰ ربیع‌الأول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ارتقای ظرفیت منسوبین قضائی، اداری و مدیران حقوق محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های مقر، دره‌بوم، سنگ‌آتش، قادس و آب‌کمری در مقر محکمهٔ مرافعه برگزار شد.

در این سیمینار موضوعات شرایط صحت دعاوی، اصولنامهٔ جزائی، تحریر وثایق، اندراج، تنظیم فیصله‌ها و طرزالعمل حقوق از طرف استادان بیان گردید.

در جلسه اختتامیه این سیمینار والی بادغیس، رئیس عدلیه، معاون ریاست استخبارات، نمایندهٔ قوماندانی امنیه و قضات محاکم مرافعه و شهری اشتراک نموده‌اند.

در ادامه توصیه‌های پیرامون سلوک قضاء، برخورد نیک با مراجعین، روابط حسنه و هماهنگی بیشتر بین ارگان‌های عدلی و قضائی به حاضرین در جلسه ارائه نموده‌اند.

جلسه با دعاء خیر خاتمه یافت.

## محاکم ولایت کندز طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۷۴۰) دوسیه، به تعداد (۲۸۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کندز، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۶۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۵۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۸) دوسیه فیصله شده، (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.


**در بخش جزائی:**


در جریان دو هفته به تعداد (۲۳۲) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.


از آن جمله در رابطه به (۱۵۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۷) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت کندز به تعداد (۲۸۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.




میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمیرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳